# د چا لپاره چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي نو هغه ته په دين کې پوهه ورکړي

له معاوية - رضی الله عنه - څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «د چا لپاره چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي نو هغه ته په دين کې پوهه ورکړي، او يقينا چې زه ويشونکی يم او الله جل جلاله ورکوونکی دی، او دا امت به د الله جل جلاله پر دين تل تر تله ثابت وي - هېڅ مخالف به يې ورته ضرر نه شي رسولای - تر څو چې قيامت قائم شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله چې د چا لپاره د خير اراده وکړي، نو هغه ته په دين کې پوهه ورکوي او دا چې هغه (صلی الله عليه وسلم) د رزق، علم او نورو شيانو - چې الله تعالی هغه ته ورکړي - تقسيموونکی دی؛ او ورکونکی په حقيقت کې الله دی او له ده پرته نور ټول اسباب دي چې د الله جل جلاله له اجازې پرته ګټه نه رسوي او دا امت به تر هغه وخته پورې د الله پر دين ثابت پاتې شي -څوک چې د دوی مخالفت کوي دوی ته به زيان ونه رسوي- تر هغه وخته پورې چې قيامت راشي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5518